مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محب‌الله زغم
۲۰۲۳/۰۷/۲۹

# د کابل کورونه

د کابل د زاړه ښار ډېری کورونه د دراني تیمورشاه په پاچاهۍ کې جوړ شوي دي. ده چې د هېواد پایتخت له کندهاره کابل ته راوړ، په دربار کې یې ګڼ شمېر قزلباشانو کار کاوه، د دوی لپاره یې په چنداول او مرادخاني کې ځایونه ورکړل. څنګه چې هغه مهال نقلیه وسیلي (بګی) لږې وې او د هر چا وس یې کرایه کولو ته نه رسېده؛ نو هر چا به هڅه کوله، چې بازار ته نژدې کور جوړ کړي.

د زاړه ښار اکثر اوسېدونکي کسبګر وو، ټټاري، آهنګري، مسګري، ترکاني، پتره ګري او خټګري د دوی کسبونه وو. دوی له خپلو کورونو سره دوکانونه هم جوړ کړل. اکثرو یې د خپل کور په اول پوړ کې دوکانونه او په دویم هغه کې کوټې جوړې کړې. هغه مهال دې ته د چا پام نه و، چې د هستوګني سیمه باید له تجارتي سیمې بېله وي. تاسي تصور کولای شئ، چې د ښکتو او اوسپنو غږونه، چې له سهاره تر ماښامه یې کرنګا پورته وي، د سیمې اوسېدونکي به څومره په عذابوي.

پخوا موټر نه و، نو کوڅې هم تنګې وې. کورونه به پر له پسې دېوال په دېوال له یو بل سره لګېدلي ودانېدل. دا کار به د ځمکې د سپمولو لپاره شوی وي، ځکه چې په کابل کې هم د هېواد د اکثرو سیمو په شان هواره ځمکه لږه او غرونه ډېر دي. خو دا جوته نه ده، چې دغه کوڅې ولې کږې وږې دي او ځینې یې دومره تنګې دي، چې د لاسي ګاډیو (کراچیو) تېرول هم په کې ناشوني وي. سړی حیرانېږي، چې هغوی به څنګه لوی صندوقونه، کندو، د غلي بوجۍ، بوغبند او داسي نور شیان یې په دې کوڅو کې تېرول؟

داسي برېښي، چې پخوانو به د کرنیزو ځمکو ساتلو ته پام کاوه، مثلاً په چهلستون او دهمزنګ کې خلکو کورونه د غره په لمنو کې جوړ کړي وو، هواره یې کښت ته پرې ایښي وه. پېنځوس شپېته کاله مخکې هم د چهلستون له باغه تر ګذرګاه پورې ټولې کښتي ځمکې وې، یوازې یو څو کورونه او دوکانونه په کلا غیبي او څو نور په اغا علي شمس سیمه کې وو. د بي بي مهرو کرنیزه سیمه هم همداسې وه، کورونه د بي بي مهرو غونډۍ په ډډه کې ودان وو، پاتې ځمکې د کښت لپاره ساتل شوې وې.

د وګړو په زیاتېدو سره د کابل اکثرو اوسېدونکو پر خپلو ځمکو کورونه جوړ کړل. څنګه چې په ولایاتو کې کار روزګار لږ و، ډېر خلک له اطرافو کابل ته کډه شول، دوی ته هم کورونه په کار وو، د کښتي ځمکو د کمېدلو بل لامل به همدا و. ورروسته د ظاهر شاه په پاچاهۍ کې د میکرویانو د جوړولو کار پیل او د ډاکتر نجیب الله تر واکمنۍ پورې وغځېد، دغه بلاکونه هم ټول پر کرنیزو ځمکو جوړ شول. همداسي د هوایي ډګر او بلاکونه هم درواخله. دې مسئلې ته په پام سره د خیرخاني او وروسته د بګرامي او بت خاک په دښتو کې د استوګني پروژه جوړې شوې. د خیرخاني د پروژې لپاره د سړکونو، اوبو او برېښنا بندوبست ژر وشو، ځکه خو ژر ودانه شوه؛ خو د ارزان قیمت پروژه تر اوسه هم هغسي نه ده ودانه، چې باید وای، دا پروژه نژدې دېرش کاله بې سرکه وه، د اوبو او کاناليزېشن سیستم یې لا تر اوسه نشته، له سروبي بند څه راغلي د برېښنا مزي په ارزان قیمت تېرېږي؛ خو د دې پروژې کورونه نه روښانوي.

اوس د کابل نفوس تر حد زیات ډېر شوی دی. د جهادي تنظیمونو اکثر غړي، چې د کابل د شاوخوا سیمو اوسېدونکي وو، دلته ډېره شول. د نورو ولایتونو وګړي، چې پاکستان او ایران ته مهاجر شول، هلته یې د ښاري ژوند اسانتیاوې ولیدې، نو هېواد ته په راستنېدو سره یې د کلي ژوند ته زړه ښه نه کړ.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

د موقتي اداري له جوړېدا څخه تر ننه پورې زورواکو د حکومت له کمزورۍ په استفادې سره سرکاري او شخصي ځمکې غصب او ښارګوټي يې په کې جوړ کړل. اکثر دغه ښارګوټي ناقانونه دي او د انجنيرۍ معيارونه يې په پام کې نه دي نيولي. د دې پته نه لګي، چې دغه ښارګوټي چې اکثر يې شپږ اوه پوړيز بلاکونه لري، د سختو زلزلو تاب به لري که نه؟

دولت سره له دې، چې په ده سبز او چمتله کې يې پراخ ډاګونه لرل، د خلکو د هستونګې غم يې ونه کړ، دې کار خلک د خپل سرو کورونو جوړولو ته مجبور کړل. که پخوا په زاړه ښار کې کسبګرو د تجارت او هستوګنې سيمه يې سره ګډه کړې وه، اوس زورواکو په تايمني، خيرخانې او نورو ځايونو کې د هستوګنې په سيمو کې لوړ پوړي مارکيټونه ودان کړي دي. دغو مارکيټونو د خلکو د کورونو د لمر مخه ډب کړې ده. د ښاروالي د قانون له مخې د هستوګنې کورونه بايد تر دوو پوړونو زيات نه وي، د دې لپاره چې د ګاونډيو حق محفوظ وي. خو اکثر خلک د ښاروالي چارواکو ته يو څو روپۍ ورکوي او څلور پوړيز کورونه جوړوي.

ځنګه چې په ټول هېواد کې مو کښتي ځمکي کمې دي؛ حکومتونه بايد د هستوګنې پر سيمو د دغو ځمکو د اوښتلو مخه ونيسي. دا کار هله کېداى شي، چې خلکو ته په ډاګونو کې د کور جوړولو زمينه برابره کړي ياني پروژې جوړې اوسرکونه ورته تېر کړي، د اوبو او برېښنا غم يې وکړي او امنيت يې ټينګ کړي.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ